آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

داود موسی

۲۰۱٦/۱۰/۲۲

# اسلامی لباس[۱]

د کندهار د ښار په چارسو کی - د شاه بازار او کابل بار پر کنج باندی، یوه ودانی - چی باید "ویرانی" یی وبولم، موږ ته د موره میراث را پاته سوی دی. تاسی ددی ویرانی نا مبارکه بڼه په دریم نمبرعکس کی لیدلای سی. دا ځای تقریباً د څه بالا دیرشو کلو راهیسی یو څو تنو دکاندارانو په وچ زور غصب کړی دی او په دی موده کی یی یوه ایکی هم د کرایی یا په کم بل نامه موږ ته نده راکړی.



خو دا موضوع دونی دردناکه نده چی ستاسی سرپر وګرځوم. اما په دوی کی کم یوه د عمارت پر تندی پر یوی لوحی باندی لیکلی دی چی "شرعی لباس د افغانانو ثقافت دی". اوس زه غواړم چی په دی موضوع کی دوو پوښتنو ته ځواب پیدا کم:

اول داچی شرعی لباس څه شی دی؟ او دوهم آیا دا کالی چی موږ یی - زما په شمول، اغوندو په رشتیا شرعی او اسلامی دی که یا؟


(۱)


(۲)


(۳)


(٤)

که د شرعی لباس څخه مطلب هغه کالی وی چی د اسلام په صدر کی اغوستل کیدل، خو دغه کالو تر اوسه هم هیڅ فرق ندی کړی . او عبارت دی د عیقال (چلتار)، مندیل (د سر دسمال)، ثُوب یا یو اوږد کمیس چی د پښو تر بجلکو پوری رسیږی او رنګ یی هم سپین وی. ددی خلکو په پښو به عموماً چپلکی (یا شِپ شِپ) وی چی د خرمنو یا د نباتاتو د الیافو څخه جوړیدل. نو ځکه چی چپلکو لڅو پښو ته د کوڅو او بازارو د کثافاتو د سرایت مخ نیوی نسوای کولای، خدای (ج) په قران کریم کی د اوداسه پر وخت، د پښو مینځل فرض ګرځولی دی (۲). که چیری د هغی زمانی عربو بوټونه او

---

[۱] - که دا مضمون د بعضی لوستونکو د ګرامره سره سر نه خوری، وجهه یی داده چی په کندهاری پښتو لیکل سوی دی.
۲ - د المائده سوری ۶ آیت.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

جراپی په پښو کولای، ممکن دی چی اوس په دی ارتباط کم بل ډول امرالهی (ج) راغلی وای. لکه چې د موزو پر سر مسح روا ده. دا هم یو حقیقت دی چی دغو خلکو پرتوګ هم چندانی نه اغوستی. نو نتیجه دا سوه چې د اسلام د صدر د عربو کالی د هغه سړی د کالو سره چی په څلورم عکس کی لیدل کیږی قطعاً کم شباهت نه تر سره کوی. زه نه پوهیږم چی دا زموږ لوحه لیکونکی صاحب چی عربی ملکو ته ځی او د هغو د کالو او خپلو کالو فرق وینی، آیا دا سوال نه ورته پیدا کیږی چی په دی دوو کی د کم یوه غیر اسلامی لباس پر تن دی؟

پس له دی به اول نمبر عکس ته مراجعه وکو. دا عکس د باختری یونانیانو د سلسلی د پاچاهانو یوه سکه ده. دی سلسلی د سکندر مقدونی د مرګه پس تقریباً تر نه سوه کاله دمخه تر اسلامه په افغانستان کی پاچایی کړی ده او دعقیدی د نظره دوی مشرکین وه. ولی چی دوی د هر طبیعی قدرت د پاره لکه لمر، سپوږمی، باد، باران، اور، مینه او نور علیحده خدایان درلودل. خو دلچسپه دا ده چی ددی پاچا پر سر د پکول خولی ده. یعنی دا پکول چی اوس زموږ د جهاد سمبول ګرځیدلی دی، په حقیقت کی د باختری یونانی مشرکینو د دود څخه موږ ته را پاته سوی دی. بیا راځو دوهم نمبر عکس ته. دا هم د کوشانیانو د زمانی یوه نیم تنه مجسمه ده چی د کابل کی پرته ده. ددی سړی - چی ویل کیږی "کنیشکا" نومیدی، چین داره پرتوګ یی هغه شی دی چی په فارسی ژبه "تنبان ګیبی" ورته وایی او موږ تولا یی اغوندو. اوږده پرک داره لمن یی هم تر ۴۰- ۵۰ کلو پخوا پوری د افغانستان د جنوب په " صحرایی" نارینه ووکی رواج درلود. کوشانیان هم مسلمانان نه وه او بودایی یا زردشتی دین یی درلودی. په څلورم عکس کی دی افغان یوه کرتی اغوستی ده. د کرتی کلمه په اصل کی Corta یوه پرتګالی کلمه ده. او په فارسی او اردو کی د "کرته" کلمه ددی څخه اخیستل سوی، او بیا د هند د لاری موږ ته راغلی ده. "لنډ" په دی معنی چی دا اصلاً یو لنډ بالا پوښ دی. همدا رنګه "واسکټ" بیا د اګریزانو د وخت یادګار دی چی ریښه یی "وست یا ویست کټ" ده. یعنی هغه کوټ دی چی د ملا په اندازه پری سوی دی.

بوټ هم انګریزی لفظ دی او د هغی خوا راغلی دی. د کمیس کلمه (په عربی ژبه قمیص) هم ویل کیږی چی اصلاً عربی نه ده او لاتینی ریښه لری لکه د فرانسوی " شومیز" او پرتګالی "کمیسا". زموږ د نارینه وو کمیس د عربو د "ثوب" پر ځای، په موږ کی د کالر والا، نهرو، ماو او بلشویکی غاړو په نامه رواج لری. بالا پوښ، قره قلی خولی، چپنه او پوستین هم د اسلام په عربی او بعضی نورو ګرم سیرو هیوادو کی - د هوا د ګرمی د کبله، هیڅ کله رواج ندی پیدا کړی. لنډه یی داچی زموږ سنتی کالی د اسلام د صدر د مسلمانو د کالو سره هیڅ شباهت نه تر سره کوی.

نو پاته سوه لنګوټه. دا کلمه هم په اصل کی هندی ده. په بعضی پښتنو کی د "پټکی"، "پټخی" او "لُنګی" په نامه هم یادیږی. د کابل او شمالی ولایاتو په ژبه ورته "لنګی" او "دستار" وایی چی زموږ د "دسترخان" په لفظ کی یی هم ځان پټ کړی دي. د افغانستان د غرب فارسی ژبی یی بیا "مندیل" بولی. ویل کیږی چی د لنګوټـی رواج اصلاً د یمن، عمان او راجستان څخه تللی دی. د یمن خلک قحطانی عرب دی او د قریشو قبیله چی زموږ مبارک رسول (ص) په هغه پوری منصوب دی، هم قحطانیان وه او "عرب مُعرب" بلل کیږی. د راجستان د خلګو د لنګوټو دود بیا د پنجاب په سکهانو کی رواج پیدا کی. دغه رواج د یمن څخه د افریقا سودان ته او د شمالی افریقا بربریانو ته هم تللی دی. نو په تاریخی تعبیر، په دا ټولو راز راز کالیو کی چی موږ افغانان یی اغوندو، یوازی لنګوټه اسلامی "نیمه بنه" لری او بس.

نیمه بنه په دی معنی چی هغه اسلامی دودونه او شعائر چی نن ورځ موږ ته د اسلام د دین د لاری را رسیدلی دی پر دری برخو ویشل کیږی: اول هغه رسوم دی چی تر اسلام دمخه یی اصلاً وجود نه درلود. لکه اودس، آذان او تراویح. دوهم هغه دی چی تر اسلام دمخه یی په نورو دینو کی هم موجود وه، خو اسلام هغه پس له لازمو تغییراتو تأیید کړی

دی. لکه روژه، حج او پنځه وخته لمونځ د لمر د حرکت د مخې. دريم يې هغه دی چي دمخه تر اسلام په نورو دينو کې يې وجود درلود خو اسلام د بعضی ملحوظاتو بر بناء هغه بيله تغييره تأييد کړی دی(۲). مثال يې د کعبې طواف، صفا او مروه، حجر الاسود او نور دی. نو په دی لحاظ، ځکه چې د يمن خلکو د اسلام د مبارک دين د قبلولو د مخه د بتانو پرستش کاوه، نو لنګوټه هم په پورتنی دريمه ډله کې راځي.

زه پخپله داسې يو ملت نه پيژنم چې هغه دی د يوه نوی دين د راتلو سره سم خپل کالی د دين راوړونکی خلکو په رنګ او ډول بدل کړی وی. د مثال په توګه به خپل د اسلام سپيځلی دين را واخلو. د دی دين د ظهورسره، هغه کسان چې عربی الاصله وه - د عراق او سوريې څخه بيا تر مراکشه پورې، د دوی کالی وار د واره عيناً لکه د سعوديانو کالی وه. ليکن بيا د شرق خواته په ايران، افغانستان، هند، پاکستان، بنګله ديش، اندنيزيا، منځنی آسيا تر قزاقستانه پورې، شرقی چين، او بيا په غرب کې تر اسپانيې پورې چا خپل عنعنوی کالی په چلتاراو منديل نه دی بدل کړی. د عربو امپراتورۍ د شرق و خوا ته د خپل نفوذه سره سم کوښښ کړی دی چي د ددوی په مستعمراتو کې د عرب او عجم فرق د کالو د لاری وسی. لکه چې تر اوسه هم په سعودی عربستان کې خارجی مسلمانانو (عجميانو) ته د عربی کالو د اغوستلو اجازه نه ورکوی. دا حقيقت په دی معنی دی چې د اسلام د مهد اوسنی حکمرانان نه غواړی غير عرب اسلامی کالی واغوندی.

آخری خبره هم دا ده چې د حضرت بهترين عالم (ص) په سيره کې راغلی دی چې دده مبارک د ويښتانو اوږدوالی د غوږو د نرمې او د اوږو د سر تر منځ وو چې په پښتو ورته "ځنی" وايی. پخوا به اکثراً پښتنو ملايانو او طالبانو ددی سنت ډيرمراعات کاوه. خو په اوس زمانه کې دوی هم موډرنيزم ته ميلان کړی دی. زياتره يې نو قضاوت ستاسی په لاس. الله ياور.

---

۲- ددی ملحوظاتو څخه يو دا چې دغه شعاير تر جاهليت پخوا په نورو ابراهيمی دينو کې هم دغسې د احترام وړ وه.